مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۱۰/۱۳

# دا هغه بېړی ډوبېږي

ز ه د وینو له سېلابه نن تازه یمه راغلی
زه د مرګ له تور ګردابه خپل نصیب یم را ایستلی
په سیلیو کي آواز مي، چا به نه وي اورېدلی
د ساحل پر پسته غېږه
بېخبره د توپان له شواخونه
بي خبره د سیلیو له څپېړو
پرتو خلکو ویدو خلکو!
زما آواز که در رسېږي
نو د وینو په سېلاب کي ستاسی کوردی
په ګرداب کی ستاسي کلی د پلار ګور دی
د ساحل پر پسته غېږه
ویدو خلکو پرتو خلکو!
ږغ مي اوری؟ دا زما چیغي در رسېږي؟
زه له هغه ښاره راغلم چي ملاله یي ګونګی ده
چي زینبه پکښی وراره چي سرتوره درخانی ده
چي ناهیده پکښی سوځي چي د حق چیغه زیندی ده
ما پخوا نارې وهلي نن ریښتیا ډوبه بېړی ده
د ساحل پر پسته غېږه
پرتو خلکو ویدو خلکو!
بېګانه له خپله ښاره، له خپل کلي پردو خلکو!
ستا سي کلی شپو خوړلی
لمر له ښاره کوچېدلی
محتسب ډېوې وژلي د رڼا غلیم راغلی
چي ډېوې یي بلولي نن له ملکه تښتېدلی
هغه ګوتي په اور سوځي چي قلم یي چلولی
د سیتار تارونه پرې دي د رباب لړمون ختلی
د پانوس جنازه وزي خپلي شمعي سوځولی
تور دېوان د شپي راغلي د رڼا سر یي خوړلی
د ساحل پر پسته غېږه
پرتو خلکو ویدو خلکو!
دا هغه توپان راغلی چي په خوب کي مي لیدلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

دا هغه بېړۍ ډوبېږي چي مي نکل وو ليکلی
هغه خوب مي ريښتيا کېږي چي تعبير مي اورېدلی
د ساحل پر پسته غېږه
پرتو خلکو ويدو خلکو!
د سيليو له کوګله زما آواز که در رسيږي
بس پرون چي مي ويله
دا هغه بېړۍ ډوبېږي.

د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر نهمه، ويرجينيا.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ